DAILY
اراده
دافغان نشراتي مرکزطي خپلواکه ورځپانه
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

سال ششم شماره ۴۱
شماره مسلسل ۹۰۸
شنبه ۲۴ جدی ۱۳۸۴ هـ ش
۱۴ ذوالحجه ۱۴۲۶ هـ ق
14 January, 2006

PROPERTY OF ACKU
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

پارلمان کشور رای اعتماد به وزرا را در دستور کار دارد

قرار است پارلمان کشور بررسی عملکرد وزارتخانه های کشور و رای اعتماد به وزرای کابینه را در ماه فبروری آغاز کند. محمد یونس قانونی، رییس مجلس نمایندگان در گفتگو با شبکه تلویزیون خصوصی طلوع گفت که این کار پس از پایان کنفرانس لندن در اواخر ماه جنوری امسال انجام خواهد شد. آقای قانونی در مورد اینکه چرا استجواب از وزرا بعد از برگزاری کنفرانس لندن آغاز خواهد شد، جزییاتی ارایه نکرد اما به گفته ناظران یکی از دلایل این می تواند باشد که مقامات نمی خواهند در آستانه برگزاری کنفرانس لندن که روی برنامه های بازسازی کشور تاثیر مهم خواهد داشت، وضعیت در سطح کابینه را متشنج جلوه دهد. پارلمان می تواند با رای عدم اعتماد وزرای کابینه کشور را سلب صلاحیت کند. در عین حال کوچک کردن کابینه که مدتها مورد بحث محافل سیاسی و مطبوعاتی کشور است از دیگر نکاتی است که ممکن است اعضای پارلمان درخصوص آن تصامیمی اتخاذ نمایند. اما روشن نیست که آیا آقای حامد کرزی، رئیس جمهور، قبل از معرفی کابینه به پارلمان این ساختار را خود کوچک خواهد ساخت و یا این کاررا به اعضای پارلمان کشور واگذار خواهد شد. اگرچه پس از برگزاری انتخابات ریاست جمهوری، آقای کرزی تلاش کرد افراد دارای تحصیلات عالی و متخصص را به حیث وزرای کابینه ای خود برگزیند اما حالا نیز برخی کارشناسان به این باور هستند که کابینه کنونی کشور بر اساس برخی "مصلحتها" ایجاد شده و در این میان "سپردن کار به اهل کار" فراموش شده است. ص۴

په حج کې په سلګونو کسان تر پښو لاندې شوي

د سعودي عربستان چارواکو دا خبره رد کړې چې ګواکې د پنجشنبه په ورځ (د مرغومي ۲۲ د جنوری ۱۲) دوی داسې څه کولی شوای چې د حاجیانو د مړینې مخه یې نیولې وای. دا خبره تر هغه وروسته چارواکو وکړه چې د حج د مراسمو په ترڅ کې نږدې د ۳۴ کسان تر پښو لاندې شول. ۴مخ

تقاضای ناتو برای فرستادن عساکر به کشور

سرمنشی سازمان پیمان اتلانتیک شمالی یا ناتو از دولت هالند خواست تاسربازانش را به افغانستان بفرستد ، آپ دی هوپ شیپر سرمنشی عمومی سازمان ناتو گفت: با فرستادن سربازان هالندی به افغانستان انسجام ملت ها درناتو محفوظ خواهد ماند سرمنشی سازمان ناتو درحالی ازهالند خواستار اعزام عساکر به جنوب افغانستان میگردد که حزب D66 عضو ائتلاف حاکم درهالند تهدید کرده است درصورت اعزام عساکر آنکشور به افغانستان از ائتلاف خارج خواهدشد که این عمل مشکلات را درکابینه هالند باعث میگردد قرار است پارلمان هالند بتاریخ پنجم دلو سال روان روی اعزام عساکر آنکشور به کشور تصمیم بگیرد ناتو خواستار اعزام شش هزار عسکر به جنوب کشور است تاکنون انگلستان ، کاناداو استرالیا به اعزام عساکر کشورهای شان به افغانستان موافقه کرده اند.

دقبایلي سیمو چاودنه کې لویه مرګ ژوبله رامنځته شوې

د قبایلي سیمو په باحوز اجنسۍ کې اوسېدونکي او د پاکستان امنیتي چارواکي وایي باور یې دادی چې یو توغندی له هیواد نه د ورغلې یوې الوتکې له لوري پر یوه کور ورتوغول شوی دی.

افغان چارواکو دا خبره رد کړې او په هیواد کې د امریکا یوه پوځي ویاند وویل چې داسې رپورټ نشته چې ګڼې امریکایي خواکونو دې په دغه سیمه کې عملیات کړي وي.

ددې اونۍ په لومړیو کې پاکستان په وزیرستان کې د پولې له هغې خوا نه د ډزو له امله چې پکې اته تنه وژل شوي وو. د امریکا پر پوځ اعتراض کړی و.

چرا مشورهء مشاوران کاربردی ندارد؟

سرمقاله

نقش مشوره ومشاور، درهمه عرصه ها بخصوص عرصه های اقتصادی برای کشورما اهمیت بسزایی دارد.

اقتصاد ویران شده ونابه سامان کشورما به یک رستاخیز همگانی وسعی وتلاش دامنه داری نیازمند است که بادریغ ودرد ازچنان حالتی برخوردار نیست.

چهارسال گذشته برخلاف افاده وپندار برخی از دولتمردان درسرنوشت ملتها ودرزندگی حکومتها ودولتها فرصت اندکی نمیتواند باشد.

اما اگر دستآوردهای خودرا سالشمار ویا مرحله به مرحله جمعبندی کنیم، کارهای بزرگ وبنیادی را شاهد می بودیم ودست کم کشور ما درعرصه های سیاسی واقتصادی به سیستمی دست می یافت که مسیر آینده کم ازکم روشن ومشخص میشد.

باید خاطرنشان ساخت که چند دستآورد معین که گاهی بررخ مردم کشیده میشود، بیشتر معلول وثمرهء حضور نیروهای بین المللی، سرازیر شدن کمکها ودست بهم دادن جامعه بین المللی است دربازسازی ساختارها ونهادهای موجود اما آنچه که وظایف حکومتها ودولتها را درطی چهار سال گذشته احتواء میکند بیشتر رابطه میگیرد به چگونگی وضعیت اقتصادی ، ایجاد زمینه های کار وفراهم آوری سهولت های لازم درزندگی مردم و... است.

پرسش درینجاست که دولتها تاکدام اندازه درکارشان توفیق داشته اند؟

با آنکه شمارهء مشاوران ومستشاران درهمه سطوح حکومتی طی چهار سال گذشته روبه افزایش بوده، اما سرشت وماهیت بازدهء کار جهش چندانی نداشته است.

جالب توجه اینست که برخی از مشاوران درعرصه های مربوط خویش به ابراز نظر های سازنده ودقیقی دررسانه ها میپردازند، اما آن نظرها و مشوره ها درسیاستهاوسیاستگزاریهای حکومت اثر بخش نیست؟

لذا این پرسش به میان می آید که چرا چنینست؟

پاسخ از دوحال خالی نیست، یا مسوولین وسیاست سازان کشور به مشوره های این مشاوران وقعی نمیگذارند ویا اینکه مشاوران پندارها واندیشه های شانرا صرف با رسانه های گروهی درمیان میگذارند.

به هر صورت با نظر داشت به حجم تشکیلاتی ادارات دولتی ، زیادی شمار مشاوران وبخصوص مشاوران خارجی نمیتواند، مورد تأمل قرار نگیرد، بخصوص که بخشی از بودجه دولتی وکمکهای بین المللی درین زمینه اختصاص یافته است .

په بغلان کې خپل سري کیندنې

د مرکزي بغلان ولسوالۍ د بیک زاد په کلي کې د دغې ولسوالۍ د امنیه قوماندان نجیب الله وردک یو ساتونکی ورمه ورځ د پرسونل ضد یو ماین باندې د ختلو له امله سخت ټپي شوی او یوه پښه یې له لاسه ورکړه دغه ماین پداسې حال کې چاودیدلی دی چې د امنیه قوماندان دوه تنه ساتونکي د بیک زاد په کلي کې د حضرت اسرافیل ولی د زیارت د خپلې سرو کیندنو د مخینوی په موخه دغه سیمې ته استول شوی وو خو نوموړی د اسرافیل ولی د زیارت په ساحه کې پر پرسونل ضد ماین باندې ختلی او ټپي شوی د ښاغلی وردګ په وینا ددغه زیارت شا او خوا سیمې د لرغونو آثارو ډکې سیمې بریښې او ددغه زیات کیندنه د همدغو شواهد برینا شوی ده د یادولو وړ ده چې د شمال ختیځو ولایتونو په تیره بیا د بغلان او تخار په ولایتونو کې له دوو درې کالونو راهیسې زیات شواهد شته چې زاړه قبرونه او زیارتونه د لرغونو آثارو د قاچاق برانو له خوا لوټ شوي او تر لاسه شوی آثار یې د هیواد نه بهر ته قاچاق شوي چې د اسرافیل ولی د زیات د لوټول هم پدې موخه تر سره شوی. د یادولو وړ ده چې ددغه پیښې په اړه څوک ندی نیول شوی خو د قاچاق برانو د نیولو لپاره هڅې روانې دي.

سربازان چک به افغانستان خواهند آمد

جمهوری چک یکصدوبیست سرباز دیگر را به کشور اعزام میدارد سخنگوی وزارت دفاع جمهوری چک گفت: این سربازان تحت رهبری ناتو فعالیت خواهند کرد جمهوری چک دوسال قبل نیز یکصدوبیست عسکر را به کشور اعزام کرده بود که در چوکات قوای ائتلاف به رهبری امریکا فعالیت داشتند اندری سویک سخنگوی وزارت دفاع جمهوری چک دریک بیانیه مطبوعاتی گفت: قرار است این پیشنهاد وزارت دفاع جمهوری چک به پارلمان آنکشور ارائه گردد حکومت چک متیقن است که پارلمان آنکشور این پیشنهاد را منظور خواهد کرد.

یو مړ او څلور ټپیان

تېره ورځ د خوست ختیځ لور ته د بتې په نوم سرحدي پوستې ته پر غځېدلی سرک چې د پاکستان پولې ته ورځیرمه پرته ده په خوست کې د میشتو ائتلافي خواکونو تر منځ د مرستندویه افغاني خواکونو د ګزمې په یو موټر باندې د نا معلومو کسانو له خوا د ریموت کنټرول لرونکي ماین د چاودنې له امله د دې ولایت د یو لوړ پوړي امنیتي مسئول په وینا د سرحدي خواکونو یو سرتیری وژل شوی او څلور تنه نور ټپیان شوي دي دغه د ګزمې موټر ته هم درونډ زیان رسیدلی دی. ۴مخ

هیواد ته د هالندي سرتیرو د راتګ د منظوری غوښتنه

د هیواد استازي په اروپایي اتحادیه کې د هالند له پارلمان څخه وغوښتل چې افغانستان ته د یو زرو څلور سوو هالندي سرتیرو لیږل منظور کړي همایون تندر د هالند د دولتي تلویزیون سره د مرکی په ترڅ کې دا غوښتنه څو ساعته مخکې له هغې وکړه چې د هالند کابینه پر موضوع بحث کوي نوموړي وویل چې انتخاب ستاسو په لاس کې دی چې آیا غواړی د طالبانو او دالقاعده تروریستي شبکې په وړاندې مبارزه وکړي او که یا خپل هیواد د خونړیو چاودنو په شان خطر سره مخامخ کړي تندر وویل افغانان په ډیری بې صبری د سره د هالند پوځونو راتګ ته سترګې په لار دي ده زیاته کړه د یوه هوسا او بسیا ملت په توګه دا د هالند مسوولیت دی. ۴مخ

یادداشتی بر تصریحات سفیر امریکا در کابل

مبصر اراده: عزیز آسوده

حکومت ناتوان، دشمن افغانستان است!!

اخیراً سفیر کبیر امریکا در کابل، آقای آرنولد نیومن، در گفتگوی کوتاهی نقطه نظرهای را بیان داشته بود، اراده پیرامون آن یاد داشتی نگاشته است:

امریکا از نیمه قرن بیستم که جنگ سرد بر بخشی از جهان حکمفرما شد و جهان در بستر سیالی از دو قطبی شدن به حرکت آمد و پیمانهای نظامی یکی پی دیگر سیستمهای شرق و غرب را بهم گرده زد و بخصوص در آسیای جنوبی و شرقی سایه آن پهن گردید، افغانستان که خود به یکی از مهره های بازی بزرگ در آمده بود، بدلیل ستراتیژیهای سیاسی و نظامی مطرح، با امریکا، پیوند نیافت.

اقمار امریکا درمنطقه ، از جمله پاکستان که یکی از کشورهای نوبنیاد و متشکل از خاکهای به توبره کشیده سرزمین های هند و افغانستان به وسیله استعمار انگلیس بود به تأمین کننده منافع امریکا و یکی از حلقه های نظامی و سیاسی آن در آمد. از همان آغاز، امریکا، همواره حقایق سیاسی منطقه را نادیده گرفت و تلاشهای حکومات افغانی برای جلب کمک و نزدیکی با امریکا بی نتیجه ماند و مانند حباب های روی آب از نفس افتاد.

اصل مداخله و دخالت از خارج کشور و بخصوص از مرزهای شرقی و جنوبی در مقطعی بیشتر از نیم قرن صدای خاموشی بود که هر گز گوش سنگین امریکا آنرا نشنید.

رخدادهای سالهای بعد و ستراتیژیهای سیاسی و نظامی ابر قدرتها بر کشورما هر چند منافع تاکتیکی و ستراتیژیکی کشورهای بزرگ را بر آورده ساخت، اما هر گز در جهت منافع ملی افغانستان نبود.

انهزام روسها درمنطقه و به پیروزی رسیدن مجاهدین و سر انجام قالب زدن طالبان، فصلهای دیگری از ستراتیژیهای امریکا بود که نتوانست منافع دراز مدت امریکا را تأمین کند. در هر مقطعی ازین رخدادها امریکا حقایق سیاسی را نادیده گرفت و نتوانست حساسیت سیاسی و مداخلات بالفعل و بالقوه از بیرون بر کشور را با امعان نظر بسنجد.

بعد از حادثه یازدهم سپتامبر ۲۰۰۱ که امریکا به چندمین اشتباه سیاسی و ستراتیژیک خود در منطقه پی برده بود، در صدد از هم پاشیدن بنیاد هایی بر امد که خود به نحوی در خط اندازی و ساختمان آن نقش اساسی را بازی کرده بود.

طی این سالها با آنکه امریکا نیروهای گسترده خریش، را با تجهیزات مدرن در مرزهای کشور پیاده کرد و مداخلات و دخالتهای توسعه یافته بسیاری را شاهد بود، هر گز نپذیرفت و منافع مشترکش با پاکستان این مجال را نافرجام باقی گذاشت که "حقایق" سیاسی - نظامی در کشور ما را با تأمل بنگرد.

اظهارات آقای نیومن، سفیر امریکا در کابل در واقع نقطه عطفی میتواند باشد در سیاستهای امریکا و ناخشنودی و شاید هم تغییر ماهوی ستراتیژیهای آن که اخیراً بیان داشته است. سفیر موصوف تصریح کرد که تروریستان از کجا می آیند؟ در حالیکه همه مقامات امریکا بشمول رئیس جمهور بوش تاکنون نسبت به چنین واقعیت سیاسی طفره رفته و منافع پاکستان را ارجح شمرده اند.

سفیر نیومن در ادامه گفته هایش می افزاید که پاکستان میتواند جلو ورود تروریستان به افغانستان را بگیرد اما...

این گفته های یک مقام بلند پایه امریکایی در کابل نشان میدهد که افغانستان چگونه قربانی یک توطیه نافرجام گردیده که همه کار ها در سطح جهانی در یک جهت سازمان داده میشود، اما هرگز از آن جهت سخنی به میان نمیآید.

این قابل توجه ترین اظهارات یک مقام امریکاست که تاکنون در مطبوعات اشاعه یافته است و بیانگر ریالیزم سیاسی میتواند بود.

هر چند باری آقای خلیلزاد واکنش هایی ازینگونه نشان داده بود، اما بدلیل افغانی الاصل بودن وی از سوی پاکستان ماست مالی و مورد سبوتاژ جدی قرار گرفت.

گفتن یک نکته الزامیست که وقتی ریشه های تروریزم نه در داخل کشور، بلکه د رخارج کشور و در پیوند با منابع شبکه های مافیایی القاعده و وابسته با حلقه های مهم پیوستهء سیاستهای منطقه یی و جهانیست چگونه میتوان با عنوان کردن یکی دو نفر از مخالفین و دعوت از آنها و آنهم در سطح داخل کشور و بوسیله ((حکومت ناتوان موجود)) به پیکار تروریزم شتافت و پیروز شد؟، اگر در سطوح بزرگتر بین المللی و با تاکتیکهای تازه و ستراتیژیهای آزموده عوامل راستین آن و مورد مطالعه قرار نگیرد، در غیر آن این تلاشها بی ثمر و بی اثر در قالب شعار باقی خواهد ماند! مگر چنین نیست؟

پرسش اینست که آیا این نقطهء عطف میتواند از اشتباهات دیگر پرده بردارد؟

با آنکه پاسخ دادن به این پرسش دشوار به نظر میرسد، اما سفیر امریکا از ین مرحله هم فراتر رفته و به دستپخت ها و فراوردههای دیگر دولت مطبوعش اشاره یی دپلوماتیک دارد،

موصوف میگوید: باید اردوی ملی و پولیس ملی افغانستان به سرعت قابلیت مقابله با مخالفین و تأمین امنیت را بدست آورندو مشخص میسازد که ناتوانی نیروهای امنیتی افغان زمینه را برای فعالیت های بیشتر تروریستان مساعد ساخته است

آقای سفیر از ارتقای قابلیت اردو و پولیس سخن میگوید، اما تصریح نمیکند که چگونه و چه وقت این امر متحقق میشود؟

گذشته ازین که همین شیوه و ساختار اردو سازی و نادیده انگاشتن سیستم ((مکلفیت عسکری)) نیز در ماهیتش مسئاله برانگیز میتواند بود!

آقای نیومن می افزاید : تروریستان خطر جدی نیست ، بلکه حکومت ناتوان، دشمن آینده افغانستان است.

پرسش اینست که آیا واقعاً این گفته ها از دگرگونی در استراتیژیهای امریکا خبر نمیدهد؟

حکومت و در مجموع دولت افغانستان هر چندظاهراً برمبنای تصامیم بن شکل گرفته ، مگر این دولت نتوانسته است همه تصریحات اجلاس بن را به منصه عمل گذارد.

این دولت تاکنون نتوانسته ارزشهای دموکراسی و دولت با قاعده وسیع و موارد دیگر را به دلایل فراوان در بطن خود بپرورد، آنچه در دیگ است و با کفلیز برون میآید، مظاهر سمبولیکی است که نمیتواند، پاسخگوی واقعی نیازهای کشور باشد، تصامیم اجلاس بن تحقق یافت، اما زندگی اکثریت مردم به مراتب بد تر از گذشته شده است.

بالعکس تنظیم گرایی، قومپرستی و قانون شکنی، رشوه و فساد اداری و بیعدالتی های گسترده، این دولت را از درون پوسانیده و در حالت دشواری قرار داده است.

اصلاحات اداری که هیچگونه استحاله یی را در ماهیت و سودمندی در ساختار نهادهای حکومتی و دولتی به میان نیاورده بیشتر به شعار دهن پرکنی می ماند که جای همهء حرفها و گفتنی ها را پنهانگارانه از میان میبرد و منتفی میسازد.

با امکانات گسترده و بی سابقه یی که جامعهء بین المللی فراهم کرده است، دولت افغانستان بدلایل فراوان کمترین بهره را گرفته و این پروسه با همه نا بسلمانیهای تاکتیکی آن همچنان به پیش میرود، در حالیکه دستآوردهای آن برای مردم به منظور پیشرفت بنیادی کشور، در مقیاس خیلی پائین قرار دارد و نمیتواند طرف قناعت مردم باشد.

امکان این امیدواری میرفت که حکومت و در مجموع دولت بابهره گیری از کادرهای متخصص و افراد نخبه و مجرب و طرح ستراتیژی های اقتصادی وضعیت زندگی مردم را بهبود ببخشد و زندگی مردم را به گونه آگاهانه و عاملانه رونق افزا سازد، اما امید های مردم با نومیدی رو برو شد،

بعد از چار سال مردم هیچگونه امید استواری برای آینده ندارند، به گونه مثال حکومت اکنون بعد از چار سال به این فکر افتاده است که باید برای تدارک برق برای شهر و کشور دست به کار شود، در حالیکه همین حالا با موجودیت منابع پولی و اقتصادی بزرگ و وعده های بزرگتر جهان متمدن، شبهای کابل به گورستان شباهت دارد، تو گویی کابل شبها سر در لحاف از منهء پیشین و در قرون وسطی فرو میبرد.

اگر ازسیاستهای قوماندانپروری امریکا بگذریم جهت دیگر مردم روز تا روز اعتماد شانرا نسبت به حکومت و دولت از دست میدهند، زیرا درین نهادها با هزار و یک دشواری و نا به سامانی دست و گریبان اند و حتی حقوق قانونی شان بدست زورمندان غصب و تاراج میگردد و نمیدانند به چه کسی روی آورند؟ با بیکاری و فقر فزاینده و تهاهم بی باز خواستی بر جامعه چگونه میتوان این ثبات نیم بند را نگهداشت؟

از سوی دیگر فاصله میان مردم و دولت روز به روز گسترده تر میشود و وعده های حکومت به مردم در بته فراموشی قرار میگیرد و بدینوسیله نارضایتی مردم به شدت گسترش می یابد.

در هر گام به عوض قانون "مصلحت" مرعی الاجراء است. این مصلحت گاهی بر مصالح ملی نیز ارجحیت می یابد.

مسلماً آقای سفیر امریکا چنین موارد را در نظر داشته خواهد بود، زیرا اهداف امریکا در بیشتر موارد نه تنها نابر آورده مانده، بلکه پیروزی چشمگیری نیز نداشته است و ادامه وضعیت موجود بعید است که بتواند منافع امریکا را به گونه مستدام در کشور ما تأمین کند.

و اما سخن آخر تأکید و پا فشاری بر ((ستاتسکوی)) سیاسی و اقتصادی کشور و امیدوار بودن به آینده، مسلماً به معنای در انتظار نشستن گُل کردن ((نی ها)) خواهد بود!

ځینې ځان مرګې بریدو له بې وسی نه سر چینه اخلي

نابلد

د ځینو په اند نن سبا په هیواد کې تروریستی عناصر پیاوړي کیدونکی دی او ګورو چې بیلا بیل او ډول ډول بریدونه کیږي او سراسري امنیت یې له اندیښنی سره مخ کړی دی او پدی بریدونو کې لاد سړ کال په اوږدو کې ځان وژونکی بریدونه زیات شوی.

خو کله چې موږ د یوې پیښې په هکله څیړنی کوو باید د هغې پیښې رامنځته کوونکي لاملونه پیدا کړو او کله چې اصلي لاملونه له منځه لاړ شي نو پیښې خپل په خپله کمیږي.

تروریستی عناصر د خپلو اهدافو د سرته رسولو لپاره له دوو لارو څخه کار اخلي یو دا چې د خپلو تروریستي اهدافو لپاره ځانګړی اشخاص داسې روزي چې هغوی ته دنیا په هیڅ حسابوي او دهغوی ټول نظر او فکر بلی خوا ته اړوي او پدې یې متیقن کوي چې د کفارو په وژنه کې مستقیماً جنت ته ځي او دځان وژنی له لاری دغه چانس ورته ښه برابریږي هغوی ځان وژونکی او تروریستي عناصر په متیقن کوي چې د بهرنیو اشخاصو وژل او دهغوی د پلوی رژیم تخریب او د امن او امنیت له منځه وړلو په خاطر د ښوونځیو سوځول، انجونو مخنیوی ښوونځیو ته له ثوابونو څخه یو ډک کار دی او پدې لاره سر ورکول جنت ته د تګ لاری چاری برابروي او حال دا چې دغه عمل د علماوو په وینا د اسلام خلاف کار دی او اسلامی شریعت ورته د داسې اعمالو اجازه نه ورکوي.

دا چې دوی پدی تګ لاره کې څومره بری ته رسیږي دا یوه بیله خبره ده د کامیابی او ناکامی لپاره یې جلا جلا لاری موجود دی، تروریست عناصر د خپلو ناکامه کیدونکو اهدافو د سرته رسولو لپاره غریب او له ژوند څخه نا امید کیدونکي او شوی اشخاص هم د پیسو په مقابل کې استخداموي اوس چې مونږ په هیواد کې ګورود څلورو کلونوپه موده کې د معیشیت د ښه والی لپاره څه کار نه دی شوی مونږ خپلی بریاوی یوازې د ولسمشر په ټاکلو د اساسي قانون په جوړولو او د ملي شورا په جوړولو کې خلاصه کولای نشو تر دی د مخه د ژوند جوړولو کار باید په پام کې ونیول شي. اوس مهال په هیواد کې غریبي زیاته ده خلک د خپلو اولادونو لپاره د خوراك د پیدا کولو له ستونزوسره مخامخ دي کار نشته روزګار نشته لوړ پوړي مسوولین د خپل ژوند د جوړولو په فکر کې دی چې څنګه ځانته پلازی جوړی کړی څنګه ځانونو ته امتیازات تر لاسه کړي غریبانان په خیراتونو او ګدايي ستړی شول په ښارکې د سرکونو په څنګ کې ورته هم د کار کولو اجازه نشته چې دا ستونزې له هیچا څخه پټی نه دی وايي چې کاسه ډکه شي اوبه تری توئیږي.

د غریبي د زیاتوالی په وړاندې نه یوازې دا چې حوصله کمیږي بلکی له دولت سره عقده هم زیاتیږي او روانی تکلیفونو هم ورسره مل کیږي داسې کسان د خپلو اولادونو لپاره د څو ورځو خرڅ د برابرولو او له دولت څخه د خپل ځان د وژنی پواسطه د انتقام د اخیستلو لپاره تیاریږي اوله تروریستي کړیو څخه په ارتباط یو څه پیسی تر لاسه کوي او د اوسنیو ټولو ناخوالو د رامنځته کیدو له امله له دولت څخه انتقام اخلي په ځان پورې بمونه تړلی او خپل خوږ ژوند له لاسه ورکوي نو ویلای شو چې د ځان وژنی مرګونه ټول په عقیدوی لحاظ نه رامنځه کیږي بلکی زیاته فیصدي یې د اوسنی دولت د کړنو او نه خدمت څخه سرچینه اخلي.

زموږ دولت د اوښ په شا سپور دی دوی فکر کوي چې خلك له مونږ سره دی خو خلك له دولت څخه ناراضه دی خلك همدا اوس د طالبانو د سختو حرکاتو له کولو سره سره د طالبانو پلوی کوي او وايي چې هغوی کې یوه قوماندہ وه سراسري امن او د مجرم لپاره سزاګانی او صحرايي پریکړه وی او همدا وجه وه چې هغی له سختو حرکاتوسره سره ډیر خلك په غیږي کې نیولی وو.

که چیرې اوسنی دولت د خلکو د ژوندانه د ښه والی او سرانه عاید د ښه والی په برخه کې ګامونه وانه خلي ویلای شو چې کیدای شي بیا په وچو ویالو کې اوبه راشي او بیا به نه د بهرنیو زور وچلیږي او نه به د کورنیو، او اوسنی ټاکل شوی لاره به له ازغیو بیرته ډکه شي نو پکار داده چې د دولت چارواکي او مسوولین له ځان په فکر کې نه شي بلکی دا فکر وکړي چې مونږ د څلورو کلونو په موده کې څه کړي دي پدې موده کې څومره کارونه پیدا شوي دي او څومره د خلکو په ژوندانه کې ښه والی راغلی دی او څومره مو خلك له بی وزلی څخه خلاص کړی دی مونږ باید منفي ځواب په مثبت بدل کړو، حال دا چې ځواب یې منفی دی.

د ځان وژنی مرګونه ټول په عقیدوی لحاظ نه رامنځه کیږي بلکی زیاته فیصدي یې د اوسنی دولت د کړنو او نه خدمت څخه سرچینه اخلي

متصدی صفحه : ناظر

د ملي شورا او دهغې د رئیس مسئولیت

د بهرنیو ځواکونو شته والی امن نشي راوستی!

قادري

دری لسیزی وشوی چې زموږ په هیواد کې په بیلا بیلو نومونو سره جګړه روانه ده او بیلی بیلی بڼې پیدا کوي. دا څه لږه موده نه ده دری لسیزی په جګړو کې تیرول حتماً ستر او نه جبران کیدونکی مادي او معنوي زیانونه رامنځته کولای شي زموږ په هیواد کې له دوو میلیونو څخه د زیاتو هیوادوالو مړینه او بهرنیو هیوادونو ته د هجرت لړی د همدغو جګړو زیږنده ده. شوروی اتحاد چې په خپل وخت کې ستر قوت وغوښتل یې چې تودو اوبو ته ځان ورسوي او لویدیځ هیوادونه له خپلې ویرې او زموږ په هیواد کې د خپلو اهدافو دسرته رسیدلو په خاطر را پاڅیدل د شورویانو په مقابل کې یې افغانان وهڅول او هر ډول مرستې یې ورسره وکړې او بالاخره شورویان له هر ډول زیانونو په منلو سره دې ته مجبور شول چې د افغانستان د وخت له مشرۍ سره د وتلو خبره مطرح کړي چې په هیواد کې د ببرك کارمل لیرې کیدل او په ځای یې د داکتر نجیب الله د واکمنۍ رامنځته کیدل د همدغه پلان د بسرته رسیدلو یوه برخه وه.

شورویانو په افغان هیواد کې په بشري او اقتصادي لحاظ نه یوازې دا چې زیات ځانونه ولیدل بلکې ستر اتحاد یې هم له لاسه ورکړ او په دغه اوږده بهیرکې یې نه یوازې زیانونه او د اتحاد له منځه تلل ولیدل بلکې خپل ګوند یې هم ټوټې ټوټې شو او په افغان هیواد کې چې کله د طالبانو له منځه وړلو لپاره امریکا دخیله شوه او د نړیوالو ځواکونو په مشرۍ امریکا خپل ځواکونه دلته په هیواد کې ځای په ځای کړل که څه هم زموږ لپاره تر یوې اندازې پورې ډاډینه ده چې د ډیرو په اند دلته به د بهرنیو ځواکونو له وتلو سره د وینو ویالې روانې شي او که دا بهرني ځواکونه نه وي بیا به جګړې رامنځته شي دا خبره رښتیا ده خو که چیرې د بهرنیو ځواکونو وتل هم ونه شي د وینو ویالې به روانې وي ځکه چې همدا اوس هم کورو چې طالبان د ټولو بریدونو پړې په غاړه اخلي کله چې بهرني ځواکونه راغلل طالبانو د ځان له پاره د پټیدلو ځایونه لټول خو اوس بیرته راښکاره شول لکه چې د طالبانو لوری وویل چې ۲۰۰ کسان یې د ځان وژنې بریدونو ته اماده شوي دي ایا پدې بریدونو کې وینې نه توئیږي؟ ورانې نه رامنځته کیږي سراسري امن نشي خرابوالی؟ پوښتنه داده چې ولې طالبان بیرته پیاوړې شول؟

اصلاً ګاونډي هیوادونه نه غواړي چې امریکا دې دلته اوسي شوروي غواړي چې امریکا په افغانستان کې داسې راښکیل کړي لکه چې خپله راښکیل شوه او په هماغه توګه یې په اقتصادي لحاظ له پښو وغورځوي لکه چې خپله له پښو ولویدله په هغه جګړو کې چې مجاهدین وسله وال کیدل او له کومو حرکاتو څخه یې کار اخیستلو په هماغه ډول طالبانو حرکت کړی دی او هماغه ډول مرستې ورسره کیږي سلاح ورکول کیږي او مرستې ورسره کیږي او که داسې نه وای څنګه کیدای شي چې بیرته په وسله واله مبارزه پیل وکړي دا یوه خوا ده چې طالبان یې پیاوړي کړل او د هغوی د پیاوړتیا بل علت په خپله په هیواد کې له ولسمشر څخه نیولی تر کښته د دولتي مسوولو چارواکو چلند له خلکوسره. قانون. ملي کټو او ملي احساس په وړاندې دی مونږ کورو چې په اطرافو کې څه چې ان په ښارونو او مرکز کې خلك په اوسنی دولت نه دی خوشحاله د دولت او خلکو تر منځ زیات واټن دی اصلاً خلك بې توپیره شوی دی ځکه چې ورو ورو د خلکوهوساینه او اقتصاد له زیاتو کمزوریوسره مخ کیږي که چیرې یو طالب هر څومره تخریب غواړي هیڅ څوك د هغه اطلاع امنیتي ځواکونوته نه ورکوي بلکه لاره ورته ورښئي او فرسته ورسره کوي. دا کار په پخپله د طالبانو د پیاوړتیا او بیا د هغوی د خواکمنی لپاره زمینه برابروي نو که خپلې خبرې رالنډې کړو یوه ډیر خطرناکه راتلونکي سره له ځینو نسبي بریاوو د دولت تر لاسه کړي دي را روانه ده چې د ا خطرناکه راتلونکي د بهرنیو ځواکونو په شته والی کې هم د حل لاره نشي پیدا کولای مګر په هغه صورت کې چې دواړه لوری یعنی دولت او طالبان د لږو زیاتو تیریدنو په رامنځته کیدو سره بیرته سره یو شي او افغانان خپلو کې جوړ شي او نړۍ ته وګوري او دهغوی اهدافو ته وګوري.

پارلمان د خلکو کور دی!

عبد اللطیف "منت بار"

د زیات و کم دیرشو کالو را په دیخوا دا لومړی ځل دی چې زموږ په ګران هیواد کې پارلماني ټاکنې او انتخابات سرته ورسیدل او د قوس په اته ویشتمه نیټه زموږ پارلمان رسماً د ولسمشرحامد کرزی له خوا پرانیستل شو چې د افغانی دود سره سم ټولو وکیلانو د لوړی مراسم سرته ورسول.

په لومړی سر کې د "سنا" او ولسي جرګې رئیسان، بیا یې مرسیتالان او له هغې وروسته یې منشیان وټاکل شول چې د طرز العمل له مخې به په خپلو ورځینو چارو لاس پورې کړ او د خلکو هغو غوښتنو ته به ځوابونه وایي کومې چې دوی ورته غرونه غوښه او له دریاب نه ښورا جوړه کړی وه.

اوس چې د ملت استازو خپل صلاحیتونه پیژندلي دي هیله ده چې د خپلو موکلینو غوښتنې هم په اوبو لاهو نه کړي، دا ځکه چې د ملت په وړاندې د بې اعتمادۍ، نه کار اخیستل د ملت په تصمیم کې خنډونه پیدا کوي او بیا به ددې سبب شي چې په هیچا به زړه نه ټړي او نه به په راتلونکی کې چاته رایه ورکوی.

یو شاعر وایي:

تر منزله پورې شرط د رسیدو دی
که تمامه لار په وینو شي الوده

په موجوده پارلمان کې که د ګوندونو، تنظیمونو په استازو سر بیره غیر ګوندی اشخاص هم راټول شوي دي ټول باید د یوه افغان په نوم د پارلمان تر چتر لاندې دپوره ملي وحدت په چوکاټ کې په ملي تفاهم سره د هیواد اړتیاوی په نظر کې ونیسي او له خپلو سودمندو پریکړو نه خپل هیواد پر پښو ودروي.

دوی ته دا پوره څرګنده ده چې وطنوالو مو په دری لسیزو کې ډیری بدی ورځی لیدلی دی.

فقر، بدبختی، بې سرپرستی، بې کوری د سر په سترګو لیدلي او ډیر کړاوونه یې لیدلي دي ددغه راز خلکو له پاره کار کول هم یو لوی عبادت دی. که زموږ د پارلمان غړي له تیرو کالونو نه د اشتباه اخیستلو په نوم سره په خپلو کې نوك او وریځ شي او د هیواد د ودانۍ په فکر کې شي له شك نه پرته به مو هیواد او هیوادوال د نیکمرغۍ، هوسائي او پوره امنیت په لاره کې هم ورسیخ شوی وی.

دا ځکه چې د عافیت په قدر هغه څوك پوهیږي چې په کړاوونو او مصیبت باندې اخته شوی وي زموږ وطنوالو ډیری سړی او تودی لیدلي دي، لوږی، نا امیدي ګانی یې ګاللي دي چې د ملت د نمایندګانو نه پټې نه دي پاتې. دا چې عیان ته څه بیان دی نو زموږ د ملت نمایندګان په دې ښه پوهیږي او ورته څرګنده ده چې زموږ هیواد په اوس وخت کې د روڼ انده استازو هلو ځلو ته سترګې په لاره دی دوی باید دا اجرائیه قوي سره په تفاهم کې شي اوپه ګډه سره د هیواد د پرمختیا لاری چاری ولټوي.

ولسي جرګه او اجرائیه قوه دواړه ارګانونه باید د ملت په خدمت کې وي نور نو ددی ځای نه پاتې کیږي چې یو ارګان دی په بل ارګان باندې د ګوت نیونی نه کار واخلي، ګوت نیونی په تفاهم او د افکارو په شریکولو باندې له منځه وځي موږ باید په دې راضي نه شو چې د شورا او حکومت تر منځ دی اختلاف را پیدا شي او د غرض خاوندان دی ورته لمنه ووهي، په خړو اوبو کې ډیرو د غرض خاوندانو ماهیان نیولي دي خو اوس چې زموږ د ملت نمایندګان د ملت په کور کې راټول شوي دي دوی ته دا ښه څرګندیدلای شي چې د وطن خادمان څوك او بدخواهان یې څوك دي، دوی کولای شي چې په خپل هغه صلاحیت چې د ملت څخه یې تر لاسه کړی د خاین او خادم فرق وکړي هغه چې خائن دی په سزا دی ورسوي او کوم چې صادق او د هیواد خادم دی هغه دی په غیږ کې ونیسي او احترام او قدر دی وشي.

موږ په اوس وخت کې امینو خلکو ته زیات ضرورت لرو او دا چې ملت د استازیتوب امانت د ملت نمایندګانو ته سپارلی دی نو بیا خو په کار داد ی چې د امانت په ساتلو کې د زیات دقت او پاملرنی نه کار واخلي او خپله دغه ماته کښتی تر ساحل پوری ورسوي، دا ځکه چې د ملت سترګې خپلو نمایندګانو «استازو» ته اوړي وګورو چې دوی به په خپلو هر اړخیزو اقداماتو باندې څومره هوسائي ملت ته ورپه برخه کړي او تر کومی اندازې به د ملت ستونزې کمی کړی خو دا د پوهو تجربه کارو نماینده ګانو وطنی او ایماني دنده ده چې د ملت غوښتنو ته په اهمیت قایل شي او د ملت د سپارښتنو سره سم په خپلو چارو کې د دوی ستونزې په نظر کې ونیسي او له حکومت سره په تفاهم کې ورته د حل لاری او چارې ولټوي.

رفع موانع امنیتی(!) عامل گشایش راه های عبورومروروتثبیت حاکمیت قانون

محمد صدیق مصدق

باناباوری کامل شروع هفته قبل از طریق رسانه های اطلاعات همگانی اطلاع یافتیم که مبتنی برفرمان ریاست جمهوری وزارت داخله مصمم است تا جمیع موانع امنیتی خودسر چون دیوار های کانکریتی، چک ها، سیم های خاردار، کانتینرهاو غرفه ها ، جمپ های نامتوازن وغیره را از میان بردارد. بدین منظور ازتمام صاحبان همچو موانع تقاضا بعمل آمد تادر ظرف یک هفته درفع موانع متذکره اقدام نمایند.

اصل معضله :

باباوری بخاطریکه این ملوک الطوایف ها، شامل موسسات ملل متحد، بانک ها، موسسات غیردولتی داخلی وخارجی ، هوتل ها ، اراکین بلند پایه دولتی وحتی نیمچه قوماندانان مدعی اند که خود باید امنیت خویشرا تامین نمایندتا از حملات انتحاری وسایر سوء قصد هادرامان بمانند.

اقدام فعلی:

با وصف آنکه شهروندان شهر کابل ازاقدام فعلی با گرمی استقبال نمودند اما نسبت مصلحت های جاری درکشور تازمانیکه جنبه عملی آنرا بچشم سر نبینند درمورد آن بدیده شک وتردید مینگرند، یک امر عمده که این شک و تردید ها را تقویه میبخشد ، استثنایی است که دراین اقدام ازآن تذکر رفته است : " محلاتی که نسبت معاذیر امنیتی موجودیت موانع امنیتی درآنجا ها ضروری پنداشته میشود ازاین امر مستثنیٰ خواهند بود" گمان میرود که بدون شک همه صاحبان موانع خویشرا درعقب همین استثناء پنهان نموده وآنرا به یک قاعده مبدل خواهند ساخت.

راه حل:

اگر وزارت داخله میخواهد که حقانیت ادعایش ومهمتر ازآن حکم ریاست جمهوری بدینمنظور خدشه دار نگردد، باید بطور قاطع وبدون درنظر داشت هیچگونه مصلحتی درازبین برداشتن تمام موانع درشهر داخل اقدام گردند.

اگر،کدام موسسه ملل متحد، بانک ها، موسسات غیردولتی داخلی وخارجی ، هوتل ها ، اراکین عالیرتبه دولتی، قوماندانان وغیره به تامین امنیت شان از طرف مقامات امنیتی دولتی ونیروهای حفظ صلح آیساف معتقد نیستند ، بهتر است تا به بیرون از شهر نقل مکان نموده وبا ایجاد محوطه ها یا Compounds خود درامنیت دلخواه بسر برده ، مردم را ازشر مزاحمت شان درامان داشته ودرقسمت نور مالیزه شدن جریان مزدحم ترافیک درشهر همکاری نمایند.

ضرب الاجل وعواقب آن :

فعلاً که ضرب الاجل بدون آنکه هیچیک ازموانع سالاران وقعی بدان قایل گردیده باشند بپایان رسید، برمقامات اجرائیوی وزارت داخله است تا بزودترین فرصت داخل اقدام گردند توسط:

الف:- راه میانه : ضرب الاجل را برای یکهفته دیگر تمدید نموده وبعداً درصورت عدم همکاری موانع سالاران ، وزارت داخله خود آنها را ازبین برداشته ومصارف ناشی از آنرا از مراجع ذیربط درطی یک موعود معین حصول نمایند، درصورت تاخیر درپرداخت ، جریمه نقدی وضع گردد که درمقابل هر روزیکه تاخیر درپرداخت صورت میگیرد ، جریمه نقدی با یک مبلغ مشخص تزاید یابد.ب:-راه قاطعانه: بعد ازختم ضرب الاجل ، وزارت داخله خود آنها را ازبین برداشته ومصارف ناشی ازآنرا از مراجع ذیربط درطی یک موعود معین حصول نمایند، درصورت تاخیر درپرداخت ، جریمه نقدی وضع گردد که درمقابل هرروزیکه تاخیر درپرداخت صورت میگیرد، جریمه نقدی با یک مبلغ مشخص تزاید یابد.

دیدار صدراعظم آلمان با رییس جمهور امریکا

آنگلا مرکل، صدراعظم آلمان، به منظور دیدار و گفتگو با جورج بوش، رییس جمهور، و سایر مقامات امریکایی از جمله در مورد بحران هسته ای ایران وارد واشنگتن شده است.

خانم مرکل، که روز ۲۲ نوامبر سال گذشته مقام صدراعظم آلمان را برعهده گرفت، روز جمعه، ۱۳ جنوری، با جورج بوش در کاخ سفید ملاقات نمود و هدف اصلی از این دیدار بهبود روابط دوجانبه است که به دلیل مخالفت دولت قبلی آلمان با حمله نظامی ایالات متحده به عراق به سردی گراییده بود.

از جمله موضوع های دیگری که در مذاکرات مطرح خواهد شد بحران ناشی از اقدامات هسته ای اخیر ایران است.

بی تردید موضعگیری سختگیرانه تر کشورهای اروپایی، از جمله آلمان، در مورد از سرگیری فعالیت مراکز تحقیقات غنی سازی در ایران، باعث خوشنودی جورج بوش می شود که همواره نسبت به برنامه های هسته ای جمهوری اسلامی بدبین بوده است.

در حالیکه اقدامات اخیر ایران باعث توقف مذاکرات با اروپاییان شده است، دولت امریکا، که حمایت خود را از این مذاکرات اعلام داشته بود، می تواند بدبینی نسبت به اهداف جمهوری اسلامی را موجه توصیف کند.

همچنین، با توجه به روابط سنتی آلمان و جمهوری اسلامی، جورج بوش تغییر در موضع دولت آلمان در قبال ایران را به منزله دستاوردی قابل توجه در سیاست خارجی خود تلقی می کند به خصوص اینکه در جریان حمله نظامی ایالات متحده به عراق، مخالفت دولت آلمان موقعیت امریکا در عرصه بین المللی را به شدت تضعیف کرد.

با وجود شباهت دیدگاه های سیاسی رهبران دو کشور و نزدیک شدن رویکرد خارجی آنان به یکدیگر، در مواردی دولت تحت رهبری خانم مرکل با جنبه هایی از سیاست خارجی دولت آقای بوش مخالفت ورزیده و آنها را به چالش گرفته است.

خانم مرکل اخیراً از امریکا خواست زندانهای واقع در خلیج گوانتانامو را که شهروندان خارجی مظنون به ارتباط با تروریزم در آن زندانی هستند تعطیل کند.

در عین حال، دیدگاه های صدراعظم جدید آلمان، به عنوان یک سیاستمدار راستگرا، از جمله در زمینه موضوع های اقتصادی با استقبال گرم جورج بوش مواجه خواهد شد و قطعاً زمینه مساعدی را برای برقراری روابط دوستانه بین دو رهبر فراهم خواهد آورد.

مقامات کاخ سفید گفته اند که ملاقات و گفتگوهای آقای بوش و خانم مرکل سه ساعت به طول خواهد انجامید که نشانه اهمیتی است که رییس جمهور امریکا برای دوستی با رهبر جدید آلمان قایل است.

هیواد ته د هالندي سرتیرو...

چې له نورو سره مرسته وکړي تندر ومنله چې هالندي ځواکونه به د هغوی د دیره کیدو په سیمه د افغانستان په جنوبي ولایت ارزګان کې د خطرونو سره مخ وي خو پر ځای به یې د زرګونو کسانو ژوند وژغوري د هالند کابینې تر اوسه څو ځله د ارزګان ولایت ته د تریو زرو څلور سوه پوري د سرتیرو د استولو پریکړه ځنډولې ده او دغه راز د هالند پارلمان په افغانستان ته د سرتیرو استولو په هکله په راتلونکي میاشت کې پریکړه وکړي.

په حج کې په سګونو کسان ...

د سعودي عربستان د کورنیو چارو د وزارت یوه ویاند وویل که چیرې نور کنټرول هم وای نو ښایي د مړینو شمیره تر دې هم ډیره شوې وای.

دا پېښه هغه وخت وشوه چې حاجیانو په شیطان باندې د ډبرو د وارولو هڅه کوله.

چارواکي وایي د دې پېښې یو دلیل د حاجیانو له خوا د خپلو بکسونو راوړل وو که څه هم دوی ته په بیا بیا ویل شوي وو چې د خپلو سامانونو له راوړلو ډډه وکړي.

پارلمان کشور رای اعتماد ...

به علاوه، شماری از وزرای کابینه کشور به عدم برنامه ریزی مشخص و ترویج فساد اداری در وزارتهای خود مقصر دانسته می شوند که این موضوع به باور بیشتر افغانها، سبب عدم پیشرفت چشمگیر در برنامه های بازسازی و حیف و میل پولهای کمک شده به کشور شده است.

رییس مجلس نمایندگان می گوید کارکرد شماری از وزرای کشور قابل قبول است ولی شمار دیگر از این وزرا باید در برابر اعضای پارلمان از آنچه تا حال انجام داده اند، حساب دهند.

آقای قانونی به شکل مشخص به آن وزرای که نیاز به حسابدهی دارند اشاره نکرد.

او گفت: "پارلمان می تواند در مورد وزرای که تا حال موفق بوده اند و یا هم آنانی که در کار خود ناکام هستند، تصمیم گیرد و باور من این است که پارلمان در زمان تصمیم گیری واقعیت های فعلی افغانستان را در نظر خواهد داشت."

آقای قانونی افزود: "موضوع مهم این است که پارلمان با در نظر داشت منافع مردم کشور در مورد وزرا تصمیم خواهد گرفت تا این تصامیم بتواند به بهبود وضعیت در کشور منجر شود."

به علاوه وزرا، مقامات ارشد دستگاه قضایی کشور نیز باید در برابر پارلمان کشور حاضر شوند.

یو مړ او څلور...

د نوموړی په قول پېښه هغه مهال رامنځ ته شوه چې افغاني مرستندویه سرتیري د پاکستان پولی ته په نږدې سیمه کې له یوه کلي څخه د تیریدو په حال کې وو ده وویل چې د چاودنې د رامنځ ته کیدو وروسته په سیمه کې د سرحدي ځواکونو له خوا پلټنې پیل شوې چې په ترڅ کې یې د پېښې په اړوند څو تنه مشکوک کسان نیول شوي او دپېښې پړه چا په غاړه نده اخیستې.

امیتابچن د یوه اعلان له امله ښښنه وغوښته

د هند وتلي فلمي ستوري امیتابچن د سیګریټ څکولو پر ضد د یوې ټولنې له غړو تر هغه وروسته ښښنه وغوښته چې په یوه فلمي پوستر کې له سیګریټو سره ښکاره شو.

د تمباکو د ختمولو ملي هندي اداري ګواښ کړی و چې که په ۸ ورځو کې امیتابچن ښښنه ونه غواړي نو محکمې ته به یې راکاږي او تاوان به ترې وغواړي.

اوس دغې اداري د امیتابچن ښښنه منلې ده او وایي پرې خوښ دي.

د هند حکومت په ۲۰۰۳ کال کې د تمباکو پر اعلانونو بندیز ولګاوه او تیر کال یې په فلمونو او تلویزیوني خپرونو کې هم د سیګریټو پر ښکارولو بندیزونه ولګول.

د تمباکو د ختمولو ملي هندي اداري چې په ګووا سیمې کې مېشته ده د امیتابچن له خوا لیک ترلاسه کړ چې پکې ژمنه شوې په راتلونکي کې به داسې نه کوي.

امیتابچن په لیک کې لیکلي «ما دا خبره اوس په پام کې نیولې ده او له خپلو پرودیوسرانو مې غوښتي دي چې په راتلونکي کې داسې څه ونه شي.»

د تمباکو د ختمولو ملي هندي اداري ټینګار کړی دی چې اوس به هغه اداره محکمې ته راکاږي چې دغه اعلان یې خپور کړی دی.

امیتابچن د هندي فلمونو تر ټولو مشهوره څیره ده چې له

تیرو درو لسیزو په فلمونو کې د اتل په توګه ښکاري او په میلیونونو مینه وال لري.

ده تیره میاشت عملیات وکړل او اوس په خپل کور کې ارام کوي.

موضعگیری امام جمعه موقت جدید تهران در برابر منتقدان جمهوریت

با اوجگیری بحث و اختلاف نظر بر سر ساختار نظام حکومتی ایران میان محافل سیاسی این کشور، سید احمد خاتمی در دومین نمازجمعه ای که در تهران امامت کرده به موضعگیری در این زمینه پرداخته و گفته است: "کسی جرأت ندارد با برداشتن جمهوریت، کشور را دوباره به سمت استبداد پیش ببرد و انتخابات را انتصابات کند."

اظهارات آقای خاتمی در واقع موضعگیری در برابر برخی روحانیون محافظه کار و هواداران آنان است که جمهوریت را چندان با اسلام سازگار نمی بینند و به الهی بودن منشأ حکومت بیشتر از الهی بودن آن باور دارند.

طرفداران این تفکر بیشتر به محمدتقی مصباح یزدی از روحانیون پرنفوذ محافظه کار منسوبند و در این میان طیف دیگری از محافل سیاسی ایران که عمدتاً از اصلاح طلبان به شمار می روند آنان را به انحراف از اندیشه های آیت الله خمینی بنیانگذار جمهوری اسلامی متهم می کنند.

موضعگیری سید احمد خاتمی در این زمینه او را در صف اصلاح طلبان قرار می دهد و این در حالی است که او خود به دیدگاههای محافظه کار افراطی شهرت دارد.

بحثهای مربوط به میزان همخوانی اسلامیت و جمهوریت عمدتاً در پی پیروزی محمود احمدی نژاد در انتخابات اخیر ریاست جمهوری ایران باب شده و سیداحمد خاتمی در خطبه های نمازجمعه تهران این بحثها را بی اساس خوانده و به اظهارات آیت الله خمینی اشاره کرده که گفته بود: "جمهوری اسلامی نه یک کلمه کم و نه یک کلمه زیاد" و آیت الله خامنه ای، رهبر کنونی جمهوری اسلامی که گفته: "ترکیب جمهوری اسلامی ترکیبی اتحادی است، نه می شود جمهوریت را از اسلام و نه اسلام را از جمهوریت جدا کرد."

آقای خاتمی افزوده است: "این نظام جمهوری اسلامی باقی خواهد ماند، استبداد و دیکتاتوری تمام شد و استبداد و دیکتاتوری به هیچ شکل در این کشور پا نخواهد گرفت."

ارواده
زیرنظر هیات تحریر انتشار میابد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار
اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر ۹۵)
موبایل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
ERADA Daily
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor:Suhrab Didar (Mobil phone :070222726)
eradadaily@hotmail.com
Engineerjamil_amiry@yahoo.com
روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: انجینیر محمد جمیل "امیری" و سبحان الله "داودزی"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یك شماره ۳ افغانی